لیکوال: څېړنغونډه

نېټه ۰۶-۰۱-۲۰۱۱

# دپاني پت دريمه لويه او پرېکنده جګړه

## د (۱۷۶۱) ميلادي کال دجنوري څوارلسمه

پوره دونيم سوه کاله وړاندي دافغانستان بنسټ اېښودونکي لوی احمدشاه بابا دهند دمظلومو وګړو دمرستي لپاره دهغوی په غوښتنه دپاني پت په ډګرکي مرهټه ځواک ته ماتي ورکړه.

ددې ورځي ديادوني او لمانځني لپاره دانګلستان په لندن ښارکي د۲۰۱۱ميلادي کال دجنوري پر(۱۵) پنځلسمه چي دشنبې ورځ کېږي ديوې علمي غونډې تابيا شوې ده.

داچي دافغانستان پر يوې ارزښتناکي تاريخي موضوع علمي او څېړنيز بحث کېږي او ديوې درني ورځي لمانځنه ده نو ستاسو څخه په درنښت هيله کېږي چي له موږ سره په دې غونډه کي ګډون وکړئ .
البته هغه ليکوال او دېولنو استازي چي دځينو ستونزواو له کبله له موږ سره ګډون نه شي کولای هغوی کولای شي چي خپل پيغامونه دغونډې له برخه والو سره شريک کړي او په خپلو پيغامونو غونډه لانوره درنه کړي.
ستاسو پيغامونه له موږ سره دګډون کولو په معنا دي.

دغونډې لپاره لاندينی موضوع ګاني په پام کي نيول شوې دي!

۱- پرهندوستان باندي دافغان بريد لامل. زرمل وال صاحب
۲- دافغان پوځ نظم او ډسپلين دوه نيم سوه کاله پخوا. صفيه حليم
۳- په اتلسمه ميلادي پيړی کي دهند د لويي وچي سياسي حالت. سنګروال
۴- دپاني پت ډګرپه اوسني وخت کي او په ډيلي کي دهغه وخت نښي نښاني. يما باريز
۵- دلوی احمدشاه بابا سوله يزي هڅي اود جګړې دمخنيوي کوښښ. حبيب الله غمخور
۶- دهند دښتمنيوسره داحمدشاه بابا چلند ؟ ډاکترنثارصمد
۷- احمدشاه ابدالي او دپاني پت جګړه ديوه سيک او يوه مرهټي تاريخ پوه په ويډيو يي او غږيزومقالو کي. هندي تاريخ پوهان.
۸ – ايا ربښتيا پر هند داحمدشاه بابا بريد انګريزانو ته لار هواره کړه ؟ استاد سيستاني
۹- پر هند داحمدشاه بابا بريد له حقوقي اړخه جايز وو؟ استاد روستار ترکی
۱۰ – پرهند دبريد پر مهال دافغانستان کورنی سياست. ډاکتر طارق رشاد
۱۱- داستاد او تاريخ پوه حسن کاکړيوه مقاله.
۱۲- دپاني پت دپرېکنده جګړې اثر پرمعاصر افغانستان. غفورليوال

په پام کي ده چي دغه پيغامونه په راتلونکي کي دهغو مقالو دټولګي برخه شي چي په کتابي بڼه چاپېږي له دې امله هيله کوو چي لنډ پيغامونه راوليږئ.
دغونډې په پای کي ديوې مشاعرې تابيا هم شوې ده چي دشعرونو لويه برخه به له موضوع سره تړاو لري.

ستاسو راتګ ته سترګي په لاردغونډې تنظيموونکي ډله (خبريال ويبپاڼه)
www.khabaryal.com
ورځ : شنبه ۲۰۱۱ميلادي کال دجنوري ۱۵
ځای :۳۲- ۳۴ سټېشن روډ اجوير لندن
HA۸ ۷AB:Postcod
وخت : ۳ بجي ماذديګر
دلانورو معلوماتو لپاره په لندن کي دميرويس افغان سره اړيکي ونيسئ .
۰۰٤٤-۷۸۳-۷٦۷۳۷۱۹
ir.afghan@yahoo.comm

پای


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ